بسم الله الرحمن الرحيم

# یوه شېبه پلټنه؛ له کورونا ویروس درسونه او عبرتونه

**(ژباړه)**

د الله سبحانه وتعالی حمد و ثنا، دردو او سلام پر سول الله صلی الله علیه وسلم، د هغه پر کورنۍ، پر اصحابو او پر هغه چا چې پیروي یې کوي. اې پاکه پروردیگاره! موږ هم د هغوی په ډله کې وشمېره او اې تر ټولو مهربانه! په خپل رحمت دې له موږ سره د هغوی په ډله کې حساب کتاب وکړه، خو وروسته:

**محاسبه او یوه شېبه پلټنه:**

اې اېمانې وروڼو! اې مسلمانانو! اې هغو کسانو چې پر قران مو منګولې ټنګې کړي، اې د نېکانو ډلې! د خلافت د سقوط (۱۹۲۴م د مارچ ۳مه) د یاد په جریان کې یو. د کورونا ویروس خپور شوی، نړۍ یې په وحشت کې اچولې، ټول په وېره او لاړورکۍ کې دي، ټول یې حکپک کړي دي. راځئ په دې سخت حالت کې یوه ګړۍ فکر او له خپل ځان سره حساب وکړو. راځئ په رښتیا د الله تعالی په اړه فکر وکړو، راځې یوه شېبه له دنیایي کارونو لرې شو! راځئ د الله سبحانه وتعالی حضور ته ودرېږو او خپل نېک او بد عملونه، چې زموږ ګټه او زیان ښیي، محاسبه کړو. راځئ هغه څه مو چې کړي، محاسبه یې کړو او د هغه څه په اړه فکر وکړو، چې وروسته به یې ترسره کوو. څکه دغه دمه (قرنطین) د تېرېدو په حال کې دی. نن لوبې ته تیاری دی او سبا یې عملي ډګر.

اې خلکو! موږ بې ځایه او بې ګټې نه یو پیداشوي. امت د دې لپاره پیداشوی چې د الله سبحانه وتعالی رضا تر لاسه کړي. امت د دې لپاره پیداشوی، چې په لوړو پوړیو، د پوخ رهبرۍ او د فضیلتونو په تر لاسه کولو پسې وګرځي. موږ هر یو باید له خپل ځان سره کېنو او د خپل ځان او اخرت په اړه فکر وکړو، دغه راز د خپلو خاطراتو اسمان ته والوزو. ایا تاسو یوه داسې ورځ تېره کړې چې د عزت مزه مو پکې څکلې وي؟ ایا ډېر ورته نېږدې شوي یاست؟ ایا د عزت ورځې له موږ تللي، که موږ پخپله پرېښې دي؟ ایا نه وینئ چې په سخت عذاب کې یو؟ ایا تاسو نه وینئ چې فتنې مو لکه چت پر سر ولاړې دي؟ ایا نه وینئ چې نن مو له پرون ناوړه دی؟ ایا تاسو نه وینئ چې ۹۹ کاله کېږي د زړه محبوب مو ورک کړی دی؟ له هغه پرته مو نه په ژوند کې خوند شته او نه هم اغېزه! ایا تاسو نه وینئ چې نړیوالو سازمانونو ته په شکایت کولو مو نه حق راکول کېږي، نه له ظلم خلاصېږو او

نه هم دښمن ته ماتې ورکولی شو؟ ایا تاسو نه پوهېږئ، چې موږ ارادې، استقامت او د روان حالت بدلون ته اړتیا لرو؟ راځئ له دغې لویې پېښې بې شمېره عبرتونه واخلو.

**لومړی: له کورونا وروسته نړۍ به هېڅکله، له کورونا مخکې په شان نه وي!**

موږ باید د نوې نړۍ د ظهور نښې او  نړیوال نظم راتلونکی تغیر هېر نه کړو. په حقیقت کې د کورونا ویروس له خپرېدو مخکې یې نړۍ له سر درد سره مخ کړې وه او د هېوادونو د کمزورۍ او ځواک ټکي یې رابرسېره کړي وو. موږ هېڅکله داسې نه وایو، چې د کورونا له کبله ستونزې سیاسي، اقتصادي او ستراتیژیکې انګېزې لري، خو له دغه سخته (کورونا) مخکې زمانه هم د نړۍ رهبرۍ پر سر د امریکا او چین په پټه جګړه مشهوره ده. له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو، چې دا جګړه د اسلام او اهل اسلام په خیر تمامه کړي، دغه راز د الله سبحانه وتعالی دغه قول رښتیا شي:

**﴿هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَكَفى بِاللَّهِ شَهِيداً﴾**

[الفتح: 28]

***ژباړه:*** *همغه ذات دی، چې خپل رسول یې له هدایت او حق دین سره رالېږلی، تر څو هغه پر ټولو دینونو غالب کړي او پر دې حقیقت د الله سبحانه وتعالی شاهدي کافي ده.*

دویم: ټوله نړۍ له لارورکۍ سره مخ ده!

د الله سبحانه وتعالی په امر د نړۍ د تر ټولو ځواکمن پوځ رهبر، د امریکا د پوځ مشر او د پنټاګون رهبران ټول بندیان دي! اوسمهال ټولو د فحشا هوټلونه او د نړۍ د جواري (قمار) تر ټولو لویې غونډې په ټپه ولاړې دي. سړکونه او کوڅې خالي دي او د امستردام فاحشه خانه چې د یوه کال عاید یې له لس میلیارده ډالرو زیات دي، تړل شوې ده. د نړۍ ټولو هېوادونو د فحشا هوټلونه، نایټ کلپونه او ډېری رسټورانټونه تړلي دي. د تاریخ په جریان کې دا لومړی ځل دی، چې په دومره کچه الوتکې په ځمکه ناستې دي. ټرامپ د بانکي ګټې کچه صفر ته راټیټه کړې ده. یعنې ټرامپ سود لغوه کړی، په داسې حال کې چې په اسلام کې له اوله همداسې ټاکل شوي دي. په دوو اونیو کې د سهام بورس ۱۶ میلیونه ډالر باد وړي دي. دغه راز ټوله نړۍ د ژغورلو په لټه کې ده.

د الله سبحانه وتعالی دغه قول موږ انتظار ته اړ کړو:

﴿...حَتَّى إِذا أَخَذَتِ الْأَرْضُ زُخْرُفَها وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ أَهْلُها أَنَّهُمْ قادِرُونَ عَلَيْها أَتاها أَمْرُنا لَيْلاً أَوْ نَهاراً فَجَعَلْناها حَصِيداً كَأَنْ لَمْ تَغْنَ بِالْأَمْسِ كَذلِكَ نُفَصِّلُ الْآياتِ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ﴾

[يونس: 24]

***ژباړه:*** *هماغه وخت چې د ځمکې پسرلی و، ښایسته ګنبتونه پکې ولاړ وو او د هغې څښتنانو دا ګڼله چې اوس موږ له دې څخه په ګټه اخیستلو قادر یو. په ناڅاپي ډول د شپې یا د ورځې زموږ حکم راغی او موږ هغه داسې تالا والا کړل، چې ته به وایې پرون هلته له سره څه شی نه و. په دې ډول موږ خپلې نښې هغو خلکو ته په ډاګه وړاندې کوو، چې فکر کوونکي ـ پوهېدونکي دي.*

دغه راز یې فرمایلي دي:

﴿وَعَنَتِ الْوُجُوهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّومِ وَقَدْ خابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْماً﴾

[طه: 111]

***ژباړه:*** *د خلکو سرونه به تل تر تله ژوندي، د کایناتو مدبر پر وړاندې ټیټ شي. یقیناً هغه څوک به نامراده وي، چا چې د ظلم د ګناه پیټی رااخیستی وي.*

چېرې دي هغه کسان چې فکر یې کاوه ماتې ورکوي؟ چېرې دي هغه ظالمان چې له داسې ویروس سره مبارزه وکړي چې په سترګو نه لیدل کېږي؟ چېرې دي ظالمان، جنایت کوونکي او منافقین؟ د ټولو غړونه چوپ شوي دي.

الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

﴿...فَعَلِمُوا أَنَّ الْحَقَّ لِلَّهِ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَا كانُوا يَفْتَرُونَ﴾

[قصص: 75]

***ژباړه:*** *په هغه وخت کې به دوی ته څرګنده شي، چې حق له الله سبحانه وتعالی سره دی او د دوی ټول هغه دروغ به ورک شي، چې له ځانه یې جوړول.*

دغه یې راز فرمایلي دي:

﴿قُلْ أَرَأَيْتَكُمْ إِنْ أَتَاكُمْ عَذَابُ اللَّهِ بَغْتَةً أَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ إِلَّا الْقَوْمُ الظَّالِمُونَ﴾

[الأنعام:47]

***ژباړه:*** *ووایه، تاسو په دې فکر کړی چې که د الله سبحانه وتعالی له لوري په ناڅاپي یا څرګند ډول عذاب راشي، نو ایا له ظالمانو پرته به نور څوک هلاک شي؟*

په یوه بل ځای کې یې فرمایلي دي:

﴿إِنْ نَشَأْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ مِنَ السَّماءِ آيَةً فَظَلَّتْ أَعْناقُهُمْ لَها خاضِعِينَ﴾

[الشعراء:4]

***ژباړه:*** *که موږ وغواړو نو له اسمانه داسې نښې رانازلولای شو، چې د دوی غاړې د هغې پر وړاندې ښکته شي.*

اې پروردیګاره! ته څومره لوی او محترم ذات یې او څومره قدرت لرې!

**سوم: دانش‌مند بریتانیایی به این باور است که ویروس‌های کشنده با برنامه‌ریزی انسان‌های شرور صورت می‌گیرد!**

در سال 2006م، کتابی تحت عنوان: «زیربنای کائنات و سرنوشت انسان‌ها» نوشتهٔ هشام طالب، چاپ گردید. نویسنده در صفحهٔ 671 سخنی را از ستاره شناس بریتانیای متوفی سال 2003م، که این دانش‌مند کتاب خود را به نام: «ساعت پایانی‌مان» نشر نموده، نقل می‌نماید. این دانش‌مند بریتانیایی می‌گوید: "مهم‌ترین خطری که بشریت را تهدید می‌کند ویروس‌های کشندهٔ ژنتیکی ساخته شده است و این توسط انسان‌های شرور صورت می‌پذیرد، یا به نتیجهٔ اشتباه انسانی و سال 2020م، سال اشتباه انسانی بیولوژیک خواهد بود که باعث مرگ یک میلیون انسان می‌شود."

**درېیم: برېتانوي پوه په دې باور دی، چې وژونکي ویروسونه د شریرو انسانانو د طرحو پر اساس رامنځته کېږي!**

په ۲۰۰٦م کال کې د هشام طالب کتاب (د کایناتو زېربناوې او د انسانانو برخلیک) چاپ شو. لیکوال د خپل کتاب په ٦٧١مخ کې د برېټانوي ستوري پېژندوونکي، چې په ۲۰۰۳م کې ومړ، د هغه له کتاب (زموږ وروستۍ ګړۍ) څخه نقل کوي: «تر ټولو لوی خطر، چې بشریت ګواښي، د شریرو انسانانو په لاس جوړ شوي جینیټیکي

ویروسونه دي. یا به د انساني پایلې تېروتنې او ۲۰۲۰م کال د انسان بیولوژیکي تېروتنه وي، چې د یو میلیون اسنانانو د مړینې لامل ګرځي.»

الله سبحانه وتعالی په دې اړه داسې وفرمایل:

**﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾**

[الروم:41]

***ژباړه:*** *په لمده او وچه کې د خلکو په لاسونو فساد ښکاره شوی دی، نو الله سبحانه وتعالی پر دوی د خپلو عملونو د سزا خوند څکي او ښایي دوی راوګرځي.*

الله سبحانه وتعالی فرمایلي:«ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ (تباهي او خرابۍ په وچه او لمده کې ښکاره شوې)، خو دلیل یې: بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ (د خلکو دکړنو په خاطر)؛ حکمت یې: لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا (د هغو ځینو کارونو جزا ده چې خلک یې کوي) او موخه یې: لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ (د دې لپاره چې هغوی راوګرځي.»

**څلورم: د پانګوالۍ حریص نظام، ناانساني نظام دی!**

اسلام د خلکو د عمر او حالت په پام کې نیولو سره، د ښه والي او حقونو د مراعاتولو هڅه کړې ده. ابو داوود، ترمذي او احمد له انس بن مالک او عبدالله ابن عمرو ابن العاص او ابن عباس څخه روایت کړی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «هغه څوک چې زموږ پر ماشوم رحم ونه کړي او د لویانو حق ونه پېژني، زموږ له ډلې نه دی.» په دغه حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «لیس منا (زموږ له ډلې نه دی)» په دې مانا چې زموږ پر لاره، هدایت او سنتو نه دی. «هغه څوک چې پر ماشومان رحم ونه کړي» یعنې؛ د هغه حقونه لکه: ښه رویه، مهرباني او شفقت وکړي. شاید له کوچني څخه موخه مسلمان ماشوم وي یا یوازې ماشوم که مسلمان هم نه وي. ځکه صغر علت ماشومتوب او کم عمر دی او فرمایلي یې دي: «زموږ د لویانو حق وپېژني» یعنې د هغه حق چې احترام او درناوی دی ادا یې کړي، نو د خُلُق موخه د اسلام اهل، رحمت، مهرباني او له لویانو سره چلند او د هغوی د حق پېژندل دي. په ځانګړې توګه کله چې د یوه شخص لویي د پوهې او نیکۍ له کبله وي.

د پانګوالۍ نظام له لوري په رسنیو کې د کورونا ویروس لوی ښودل او ډار رامنځته کولو موخه د عمر خوړولو کسانو له شر څخه خلاصون دی. ځکه د ډېر عمر لرونکي خلک د دولت د خزانې د اوږو بار دي، تولید نه لري، نو پانګوال هم له دې وېرې او وحشت څخه د خپلو ګټو لپاره کار اخلي، خپلې پالیسۍ پېچلې کوي او فکر کوي

همدايې ښه وخت دی. د دې لپاره چې د بې رحمو رسنيو لخوا د کورونا له کبله د خلکو په وحشت کې اچولو باندې پوه شئ، نو په فېسبوک کې د هغو خوارځواکو عکسونه وګورئ، چې د خوړو د نشت له کبله يې هډوکي راوتلي دي. «د لوږې ويروس هره ورځ ۸ زره ماشومان وژني او د دغه ويروس واکسين او درمل «خواړه» دي. دا له رسنيو نه اورئ، چې ايا په دليل يې پوهېږئ؟ يوازينی دليل يې دا دی، چې دغه ويروس شتمن نه وژني.» نو مرګ دې وي د پانګوالۍ پر دروغجن، چټل، حريص، جنايت کوونکي او د بشر او کرنې له منځه وړونکي پر نظام. هغه نظام چې په ټولو هېوادونو کې له خپل حده وتلی او په ځمکه کې يې فساد خپور کړی دی. اې لويه خدايه! هر څومره ژر چې کېږي، موږ او ټول بشريت د دغه نظام له شر څخه خلاص کړه!

**پنځم: د پانګوالۍ پر سود ولاړ اقتصاد له منځه تلل:**

الله سبحانه وتعالی، چې تر ټولو رښتيا ويوونکی دی، په خپل کتاب کې يې فرمايلي دي:

**﴿يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ﴾**

[البقره: 276]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی سود له منځه وړی او خيراتونو ته يې وده ورکړې ده. الله سبحانه وتعالی ناشکره او بد عمله انسان نه خوښوي.*

د واشنګټن پوسټ ورځپاڼې په يوه مقاله کې راغلي: «دا چې د کورونا ويروس په جريان کې امريکا په لومړيو کې اقتصادي شاتګ وکړ، نو دا د دې ښکارندويي کوي چې حالت به د ۲۰۰۸م کال له بحران څخه هم خراب شي. دوو امريکايي ليکوالانو هېټر لانګ او ډېوېډ لېنچ په خپلو مقالو کې ويلي دي: د ۸۰ ميليونو امريکايانو په کور کېنول، د کارونو په ټپه درول دي. دغه راز يې ويلي دي، چې د کورونا ويروس له کبله ميليونونه کارګران بېکاره کېږي. همدارنګه د فدرال حکومت د هڅو له ولکې وځي، که څه هم پرون جمعه د (۲۰۲۰م کال د مارچ ۲۵) د سنا مجلس د هغه اقتصاد د ژغورنې لپاره چې سپينې ماڼۍ او اصلي او کليدي قانونو جوړونکو زياتې بللې، خپلې هڅې پيل کړي دي، څو هغه کچه چې څو ورځې مخکې اعلان شوه او يو ترليون ډالره وه. هغه يېزياته کړه، چې د کار په ټپه درېدل ورځې تر بلې بحران زياتوي. رسټورانټونه، سينماګانې او د لوبو لوبغالي هڅه کوي، له کورونا ويروس څخه خوندي پاتې شي. د «امريکا مرېل لېنچ» بانک دې ته لومړيتوب ورکوي، چې د کار وزارت اعلان وکړي، چې په دې اونۍ کې په لومړي ځل درې ميليونو امريکايانو له بېکارۍ سره د مبارزې لپاره مرسته غوښتې ده او دا تر هغه رکود څلور ځلې لوړ دی چې په ۱۹۸۲ م کال کې ثبت شوی و.

**شپږم: د امريکا د اقتصاد ناڅاپي تغييرات په تاريخ کې ساری نه لري!**

دغه دوه لیکوالان وایي، د تاریخ په جریان کې د امریکا اقتصاد له دا ډول ناڅاپي تغییراتو سره نه و مخ شوی. د ۲۰۲۰م کال د لومړیو اقتصاد له ۲۰۰۹م کال څخه هم له ټیټ حالت سره مخ شو او د تېرې نیمې پیړۍ تر ټولو ټیټ اقتصادي حالت رامنځته شو. د سهامو بازار د شمېرو د لوړېدو پر لور روان و، خو اوسمهال یې اقتصاد له ناوړه حالت سره مخ دی او سهام بازار بشپړ سقوط ته راگرځېدلی دی. د موټر جوړونې درېیو لویو شرکتونو د پنجشنیې په ورځ وویل: کارخانې به مو د روانې مارچ میاشتې په ۳۰مه وتړو او ماریوت شرکت (د نړۍ تر ټولو لوی هتلي شرکت) خپل هتلي گان وتړل او خپلو زرگونو کارکوونکو ته یې ځواب ورکړ.

**اووم: الله سبحانه وتعالی ته پناه یوسئ، زه د هغه له خوا ستاسو په زړونو کې ښکاره وېره دراچوونکی یم!**

مومن انسان تل له الله سبحانه وتعالی سره په اړیکه کې وي او په دې باور لري، چې د ځمکې او اسمانونو چاپاه هغه دی. دغه راز په دې باور لري چې الله سبحانه وتعالی د ټولو شیانو، د گټې او زیان څښتن دی او هېڅ داسې شی نشته چې الله سبحانه وتعالی دې پرې برلاسی نه وي. مومن انسان په خپلو ټولو کارونو کې مخکې، وروسته او د کار د پیل پر مهال پر الله سبحانه وتعالی توکل کوي. دغه راز دا یې ایمان دی؛ هغه څه یې چې سم نه شوای کولی، شاید تېروتنه پکې وکړي او هغه څه چې ناسم نه ترسره کېدل، سم تر سره کړي!

ایماني ورونو: له هر څه چې وېرېږو، داسې ترې تښتو لکه له زمري چې تښتو؛ خو کله چې له الله سبحانه وتعالی وېرېږو، له هغه سبحانه وتعالی څخه نه تښتو، بلکې د هغه پر طرف ورتښتو (پناه وروړو) الله تعالی فرمایلي دي:

**﴿فَفِرُّوا إِلَى اللَّهِ ۖ إِنِّي لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ مُّبِينٌ﴾**

[الذاریات: 50]

***ژباړه:*** *د الله تعالی خواته ورمنډه کړئ. زه ستاسې لپاره د هغه له خوا ښکاره خبرداری درکوونکی یم.*

دغه راز یې فرمایلي دي:

**﴿...حَتَّىٰ إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ وَظَنُّوا أَن لَّا مَلْجَأَ مِنَ اللَّهِ إِلَّا إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ﴾**

[التوبه: 118]

***ژباړه:*** *کله چې ځمکه له خپلې ټولې پراخې سره سره پر هغوی تنګه شوه او د هغوی ځانونه هم پر هغوی پېټې شول، نو دوی پر دې پوه شول چې له الله سبحانه وتعالی څخه د ژغورل کېدو لپاره، بېرته د هغه رحمت ته له پناه وروړلو څخه پرته بل ځای نشته. نو الله سبحانه وتعالی په خپلې مهربانۍ د هغوی لوري ته رجوع وکړه، تر څو دوی د الله سبحانه وتعالی لوري ته راوګرځي. له شک پرته چې الله سبحانه وتعالی ښه بښونکی او رحم کوونکی دی.*

هغه ویروس چې د سر په سترګو نه لیدل کېږي، د الله سبحانه وتعالی په قدرت یې ټول بشریت مبارزې ته ورغوښتی دی. بشر یې هک پک او ېږوسه کړی، دغه راز وژنو ته یې سرعت ورکړی دی. د الله سبحانه وتعالی پر لوري ورمنډه کړئ: ﴿**وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّها الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ**﴾؛ *اې مومنانو ټول توبه وکړئ، تر څو کامیاب شئ.* مخکې له دې چې چانس له لاسه ورکړئ، شرعیت یې حاکم کړئ، څو د رحمان رضا تر لاسه کړئ. یوازې له الله سبحانه وتعالی څخه باید مرسته وغوښتل شي.

ویې ویل: کورونا خپره شوې... ومې ویل: هر څه د نظام او حساب له مخې پیداشوي دي.

ـ ویروس خطرناک دی... ـ زما رب پر هر څه بر لاسی دی.

ـ جوماتونه به وتړو... ـ تل به الله سبحانه وتعالی ته په سجده وم.

ـ درمل یې څه شی دي... ـ باید توبه، نیک عمل او دعاء وکړو.

**اتم: د شام د خلکو یوازې پرېښودل داسې جزا لري، چې د همدې خاورې د خلکو د لویې له یوازې پرېښود او له هغوی سره له مرستنې نه کولو سره برابره ده.**

شیخ عبدالعزیز طریفي وایي: «هغه ستر دولتونه چې د شام خلک یې یوازې پرېښودل او له هغوی سره یې مرسته ونه کړه، نو مساوي قیمت به یې پرې کړي. ځکه د الله سبحانه وتعالی سنت په خپل مخلوق کې په همدې ډول روان دي. یا الله! ظالم ته د خپلو ناوړه عملونو جزا ورکړه او پر مظلوم رحم وکړه.» وایي: د الله سبحانه وتعالی د سترو فریضو او اړینو واجباتو (د خلافت دولت تاسیس) ځنډولو پر وړاندې او همدارنګه د الله سبحانه وتعالی د شرعیت د نه پلي کېدلو او د منکراتو په پلي کېدو د مسلمانانو چوپ پاتې کېدو سره الله سبحانه وتعالی ناراضه کېږي. دغه راز له ټولو کمزورو مسلمانو وروڼو سره مرسته نه کول، ټول هغه موارد دي چې له امله یې الله سبحانه وتعالی ناراضه کېږي. هغه څوک چې پر دغو مواردو سترګې پټوي، عاق شوي (نافرمانه) ورته وایي، نو په مسلمانانو کې څومره ډېر عاق شوي کسان شته دي! د خپلې مور (خلافت) نافرماني کوي او د بیرته راګرځېدو لپاره یې هڅې نه کوي. په داسې حال کې له الله سبحانه وتعالی څخه د بلا، مصیبت

او عذاب لرې کول غواړي، نو څه ډول به يې الله سبحانه وتعالی دعا قبوله کړي. ايا د عاق شوو (نافرمانانو) دعا قبليږي!؟

**نهم: اې د مسلمانانو پوځه! مور مو (خلافت) تاسو خپل ځانته راغواړي، ايا داسې څوک شته چې ويې ومني!؟**

اې مسلمانانو! مور مو (خلافت) تاسو خپل ځانته راغواړي، ايا داسې څوک شته چې ويې مني!؟ اې زما د امت پوځه! راوپښ شئ د امت عزت او کرامت رامنځته کړئ! اې الله سبحانه وتعالی! مورې د خپلې کمزورۍ ټکی پېژندلی، ته يې راته وښيه؛ څکه سخاوتمند ښنه کوي. اې پاکه پروردیګاره! مورې په دين، دنيا او اخرت کې بشپړه روغتيا او ښنه درنه غواړو.

**﴿أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَن تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ...﴾**

[الحديد: 16]

***ژباړه:*** *ايا تر اوسه د ايمان راوړونکو لپاره هغه وخت نه دی راغلی، چې د هغوی زړونه د الله سبحانه وتعالی له ذکر څخه ويلي شي او د هغه د نازل کړي حق پر وړاندې سر ښکته کړي!؟*

ايا هغه وخت نه دی رارسېدلی چې د طاغوت حاکميت او د پانګوالۍ نظام په لغته ووهي او پر ځای يې اسلام ـچې خير دی ـ حاکم کړي؟ ايا د دې وخت نه دی، چې اسلام د نور او هدايت په توګه د اسلامي خلافت له لارې ټول بشريت ته ولېږدوي؟ ايا هغه وخت نه دی رارسېدلی، چې خپل پوځونه د غاصب يهود له منګولو د فلسطين او نورو مقدساتو د ازادولو پر وړاندې قيام ته وهڅول شي؟ ايا هغه وخت نه دی، چې دستور او قانون يې د خبير او باحکمته له خوا وي؟ ايا د دې وخت نه دی رارسېدلی، چې د خپلې ګناه په لويوالي او د خلافت د تاسيس لپاره کم کار درک کړئ؟

**لسم: ايا ۹۹کاله بس نه دي چې خلافت دولت نشته؟**

ايا د هغه دولت په اړه فکر کول بس نه دي، چې ۹۹کاله يا ۳۵۱۴۵ورځې کېږي چې نه يې لرو. هغه دولت چې مسلمانان او ځواک يې متحد کوي. د الله سبحانه وتعالی د احکامو او اسلام او همدارنګه د ټول بشريت د دين ملاتړ کوي او دا هر څه يوازې د نبوت پر منهج د راشده ثاني خلافت په تاسيس ممکن دي. چېرته دي هغه کسان چې د حرم په تړل کېدو او په مسجدونو کې د لمانځه د منعې پر وړاندې به يې ژړل؟ په هغوی څه شوي چې نه ژاړي؟ سره له دې چې تقريباً د يوې پېړۍ په تېرېدو هم اسلامي حکومت نشته. څوک د ژړا لايق دي

ـسره له دې چې په دغو حالاتو کې ژړا هېڅ ګټه نه لري. باید د اسلام سلطنت او خلافت دولت د رامنځته کېدو لپاره، چې د الله سبحانه وتعالی پر احکامو حکم کوي، بنسټیزې او ګټورې هڅې پیل کړو. اې مسلمانانو! قوي او منظم اوسئ، ځواکمن صفونه جوړ کړئ او خلافت تاسیس کړئ، تر څو الله سبحانه وتعالی پر موږ ټولو رحم وکړي!

**یوولسم: یوځلي او له ځنډ پرته د شرعي احکامو پلي کول!**

له شک پرته چې اسلام د الله سبحانه وتعالی په نزد غوره او کامل دین دی. نو باید هر اړخیز، یوځلي او له ځنډ پرته پلی شي. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿...الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا...﴾**

[المائدة: 3]

***ژباړه:*** *نن ما ستاسو دین ستاسو لپاره بشپړ کړ او خپل نعمت مې ستاسو لپاره پوره کړ. ستاسو لپاره مې اسلام د دین په توګه منظور کړ.*

اما کسانی هستند که ادعای علمیت نموده و به تطبیق تدریجی اسلام فرا می‌خوانند، این به معنای این است که بعضی احکام اسلام را تطبیق کنیم و بعضی دیگر آن را ترک کنیم و تطبیق نکنیم و یا احکامی را تطبیق کنیم که از غیر دین اسلام اخذ گردیده، الله سبحانه وتعالی فرموده است:

خو ځینې داسې خلک هم شته چې ځان پوه بولي او په تدریجي ډول د اسلام پلي کولو ته خلک رابولي. دا په دې مانا ده چې د اسلام ځینې احکام پلي او ځینې پرېږدو او یا هم هغه احکام پلي کړو چې د اسلام نه دي. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾**

[آل‌عمران: ۸۵]

***ژباړه:*** *هر هغه څوک چې له اسلام پرته بل دین غوره کړي، قبول به نه شي او هغوی په اخره کې ناکام او زیانمن دي.*

همدارنګه یې فرمایلي دي:

﴿...أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاءُ مَن يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰ أَشَدِّ الْعَذَابِ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ﴾

[البقره: ۸۵]

***ژباړه:*** *ایا تاسو د کتاب په یوه برخه ایمان راوړئ او په بله برخه یې کافر کېږئ؟ که ستاسو له ډلې څوک داسې وکړي، نو تر دې سخت به څه وي، چې په دنیا کې ذلیل او په اخرت کې سخت عذاب ورکړل شي. الله ستاسو له کړنو څخه ناخبره نه دی.*

په قطعي دلیل سره له ځنډ پرته د اسلام پلي کول ثابت شوي دي. ټولې لوړې ژورې له ځنډ پرته له یوې پرېکړې سره مخ شوي او له منځه تللي دي. نو اې هغو کسانو چې په تدریج باور لرئ او وایئ، چې یوځلي د اسلام پلي کول امکان نه لري، خو تاسو د حکومتونو قوانین او فرامنین وینئ، چې پر ملتونو یې یوځلي پلي کوي او هغوی یې هم مني، نه نیوکه پرې کوي او نه هم تدریج غواړي. تاسو په دې اړه څه وایئ؟

**دوولسم: که شپه هر څومره ډېره اوږده هم شي، سهار راتلونکی دی!**

هر هغه چا چې سختې تورې شپې تېرې کړي، په یوه روښانه سهار باور لري او له هرې تیارې وروسته رڼا حتمي ده. هره تیاره پای لري. هر څومره چې شپه اوږده شي، نو باید لمر راوخیژي رڼا او تودوخه خپره کړي. نو ایا اسلامي او مجاهدین راویښیږي؟ ایا پر امت د بریا باد لګیږي او د جنت باغونه ورته سینګاریږي؟ لویه خدایه! د نبوت پر منهج راشده ثاني خلافت مو نصیب کړه او موږ یې مخلص او وفاداره پوځ وګرځوه.

﴿إِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ أَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيبٍ﴾

[هود: ۸۱]

***ژباړه:*** *دې سهار ژمنه شوې، ایا سهار نېږدې نه دی؟*

﴿إِنَّهُمْ يَرَوْنَهُ بَعِيدًا * وَنَرَاهُ قَرِيبًا﴾

[المعارج: ٦]

***ژباړه:*** *هغوی هغه ورځ لرې او موږ یې نیږدې او ممکنه بولو.*

والسلام‌علیکم‌ورحمت‌الله‌وبرکاته!

**لیکوال: استاد محمد احمد النادي**

**ژباړن: حامد غورځنګ**